څېړندوی عبدالقهار عزيزي

# قضاء لەپاره د ذکوريت شرط؛ په اسلامي فقه، روم‌جرمن او کامن‌لا حقوقي سيسټمونو کې يې څېړنه

# Masculinity as a term of Judgment; a comparative study between Islam, Common Law and Civil Law legal systems

*Assistant Prof. Abdulqahar Azizi*

**Abstract**

Judgment is the fundamental legal method of conflict resolution. It is widely regarded as the best recourse for healing disputes and disagreements in the three following legal systems: Islam, Common Law, and Civil Law. One characteristic of debatable necessity for the proper execution of judgment is that of masculinity.

Islamic scholars have three main ideas regarding masculinity. The majority of scholars consider masculinity an indispensable. Conversely, Ibn Jareer Tabari opines that the masculine is not required as a condition of proper judgment in any case. Hanafi scholars, taking a more centrist view, state that masculinity is only necessary in judging fixed crimes,

which under Hodod include such acts as adultery, robbery, the drinking of wine, the false accusation of a man or woman for adultery, and under Qisas deliberate murder; however, the ruler is considered guilty as he appoints a woman as judge.

Women living in under Common Law are generally given their rights by living and passing time in the legal system. Women living under Civil Law, on the other hand, have also received more rights, but on a step-by-step basis. In comparing the two systems, it is interesting to note that, to date, more women have been hired as judges in Civil Law countries than in countries that follow Common Law. There is no documented bill to prove that women were banned from being judges while men were allowed the privilege, but rather both genders have had the opportunity to fill judicial roles. This paper has been written in analytical-descriptive method and is library based. Several books, laws, papers and internet sources have been synthesized to construct the following research, and references following the in-context method are included.

**لنډیز**

قضاوت د شخړو د هواري قانونمنده او اصولي لاره ده. په اسلام، کامن‌لا او روم-جرمن درې‌واړو حقوقي سیستمونو کې قضاء د شخړو د هواري او خصومتونو د رفع‌کېدو حل‌لاره بلل شوې ده. قضاوت په دغو درې‌واړو سیستمونو کې یو لړ ځانګړي شرایط لري. ددغو شرطونو له ډلې، د بحث وړ یو شرط ذکوریت دی. اسلامي علماء د ذکوریت شرط په اړه درې لیدلوري لري. جمهور علماء ذکوریت شرط ګڼي، ابن جریر طبري وایي ذکوریت په هیڅ صورت کې شرط نه دی او حنفي فقهاء وایي چې له حدودو او قصاص

پرته نورو مالي او غيرمالي حقوقو كې ذكوريت شرط نه دی، البته د قاضۍ په توګه د ښځې ګمارل د ګناه سبب ګڼي.

بل لوري ته، په كامن‌لا حقوقي سيستم كې ښځو ورو ورو د دوی په اصطلاح حقوق ترلاسه كړي دي. عين وضعيت په روم-جرمن حقوقي سيستم كې هم دی. مګر په عملي ډګر كې، ښځينه قضات په كامن‌لا هېوادونو كې لږ او روم-جرمن هېوادونو كې ډېر دي. د اسنادو له مخې كوم محدوديت نشته چې ذكوريت شرط دی او يوازې نارينه قضاوت كولی شي، بلكې دواړه جنسيتونه له كوم توپير پرته قضاوت كولی شي.

**سريزه**

د قضاوت په شروطو كې د ذكوريت شرط خورا مهم او د بحث وړ شرط دی. د ذكوريت شرط په دې معنی چې آيا د قضاوت لەپاره نارينه‌توب اړين دی او كه نه ښځينه جنس يا ښځې هم كولی شي چې قضاوت وكړي.

د ښځې او نارينه قضاوت، چې آيا يو ډول دی او كه توپير لري، بېله موضوع ده. خو آيا ښځې هم كولی شي چې قضاوت وكړي او د قاضي په توګه په دنده وګمارل شي او كه نه يوازې نارينه دي چې ددې حق او صلاحيت لري ترڅو د قاضي په توګه د قضاوت په ګدۍ كښيني. دې مقاله كې په همدې موضوع باندې بحث كيږي.

په لومړي سر كې د اسلامي فقهې له مخې د قضاوت له شروطو د ذكوريت شرط څېړل شوی دی چې درې ډوله نظريات دي؛ د جمهورو علماؤو نظريات، د احنافو ليدلوری او د ابن جرير طبري نظر هم راخيستل شوی دی. د دوی نظريات سره له دلايلو تر بحث لاندې نيول شوي دي.

له دې وروسته د كامن‌لا او روم-جرمن حقوقي سيستمونو لەمخې د قضاوت لەپاره د ذكوريت شرط تر بحث لاندې نيول شوی دی. دا چې د دغو دواړو حقوقي سيستمونو په قوانينو او تقنيني سندونو كې په څرګند ډول د ښځو د ممنوعيت مسئله تر ډېره نه ده روښانه شوې، خو بيا هم هڅې او

کوششونه شوي دي ترڅو تقنیني احکام پیدا کړل شي چې آیا ذکوریت شرط دی او که څنګه. ددې سره سره ډېر تمرکز په دې شوی دی چې په پورته ذکر شوو دوو حقوقي سیستمونو کې ښځو کله کوم ډول حقوق ترلاسه کړي او عملاً د ښځو حضور او ونډه په قضایي او حقوقي ادارو کې ترڅومره کچې ده.

ددې سربېره په عملي ډګر کې، د کامن‌لا او روم-جرمن هېوادونو په قضایي ادارو کې د ښځو وضعیت د کمیت او کیفیت دواړو له اړخه او دغه راز یې لاملونه هم په دې مقاله کې روښانه شوي دي او ترڅنګ یې هغه خنډونه هم تر بحث لاندې نیول شوي دي چې د ښځو د کمښت لامل شوي دي. همدارنګه ددې لپاره چې ځینو هېوادونو کومې حل‌لارې وړاندې کړي دي، لکه ښځو ته د سهمونو ځانګړي کول هم یو څه روښانه شوي دي.

**د څېړنې اهمیت او مبرمیت:** د قضاوت په شروطو کې د ذکوریت شرط د بحث وړ مهمه موضوع ده. په دې شرط باندې اسلامي فقهاء هم واحد نظر نه لري. ددې سربېره دا شرط په کامن‌لا او روم-جرمن حقوقي سیستمونو کې هم د پام وړ بحثونه لري. فلهذا درې‌واړو سیستمونو کې ددې شرط ارزول، دلایل یې پیدا کول او بالآخره پرتلنه یې خورا اړینه او ارزښتمنه ده.

**د څېړنې موخه:** ددې څېړنې موخه دا ده چې روښانه شي د نړۍ له دغو درې‌واړو حقوقي نظامونو څخه کومو نظامونو ذکوریت د قضاء لپاره شرط ګڼلی دی او کومو نظامونو نه دی ګڼلی او دغه راز دلایل یې څه دي. په دې سره به د ذکوریت شرط په علمي او عملي ډول روښانه شي چې کومو نظامونو کې د قضاء لپاره ذکوریت د شرط په توګه منل شوی دی.

**د څېړنې پوښتنه**: پوښتنه دا ده چې په اسلام، کامن‌لا او روم-جرمن حقوقي سیستمونو کې د قضاوت لپاره ذکوریت تر کومې کچې پورې او څرنګه د شرط په توګه ګڼل شوی دی؟

**د څېړنې فرضيه**: اټكل كيږي چې د نړۍ دغو درېواړو حقوقي سيسټمونو (اسلام، كامن‌لا او روم-جرمن) درېواړو قضاوت لەپاره ذكوريت د يوه مهم شرط په توګه ګڼلى دى.

**د څېړنې ميتود**: په دې مقاله كې توصيفي-تحليلي ميتود څخه كار اخيستل شوى او د كتابخانه‌يي بڼې څېړنه ده. په مقاله كې له بېلابېلو كتابونو، قوانينو، مقالو او انټرنيټ څخه د منابعو په توګه استفاده شوې او تحليل شوي دي او همدارنګه ماخذونه يې د متن‌ليک په سيسټم ترتيبب شوي دي. مقاله په پايله او وړانديزونو رانغاړل كيږي او په پاى كې يې ماخذونه په علمي طريقه كښل شوي دي.

## لومړى: په اسلامي فقه كې قضاوت لەپاره د ذكوريت شرط

قضاوت نه يوازې په اسلامي فقه، بلكې په نورو حقوقي سيسټمونو كې هم يو لړ ځانګړي شرايط لري. ددغو شرايطو له ډلې يو هم د ذكوريت شرط دى. په اسلامي فقه كې علماء د ذكوريت شرط په اړه متفق نه دي او واحد نظر نه لري. په دې اړه درې نظرونه موجود دي چې آيا ښځه كولى شي قضاوت وكړي او كه څنګه؟ چې په لاندې ډول توضيح كيږى.

### ۱- د جمهورو علماؤو نظر

د جمهور علماؤو په اند قاضي بايد يوازې نارينه وي. د دوى له نظره ښځه په كتاب الله او سنت رسول الله كې له حاكميت كولو او قضاوت څخه منع شوې ده.

د جمهورو علماؤو په اند، د قضاء مسلک بشپړې رايې ته اړتيا لري. په دې كې كامل عقل، فطانت او د ژوندانه د معاملاتو د تجربې اړتيا ده او دا صفات په نارينه كې ليدل كيږي ځكه ښځه ناقص العقل ده، معتبر نظر نەشي ساتلى او تجربه يې كمه وي. ددې سربېره، قاضي لەپاره د فقهاؤو، شاهدانو او مفتيانو سره ناسته ولاړه راځي، چې ښځو لەپاره سړيو سره ناسته منع ده. (۳:

۳۹۰ مخ) همدارنگه، الله تعالی د ښځو په تړاو د نسیان مسئله هم ذکر کړې ده، «فَإِن لَّمْ يَكُونَا رَجُلَيْنِ فَرَجُلٌ وَامْرَأَتَانِ مِمَّن تَرْضَوْنَ مِنَ الشُّهَدَاءِ أَن تَضِلَّ إِحْدَاهُمَا فَتُذَكِّرَ إِحْدَاهُمَا الْأُخْرَىٰ ۚ» (سورة البقره: ۲۸۲ آية) (...دې لهپاره چې له دغو دواړه يوه يې بلې ته ياد کړي کله چې نوموړې څخه هېر شي.) دغه راز ښځه د امامت کبری اهل نه ده او نه د کومې سيمې والي کېدلو اهليت لري، له همدې امله رسول الله (ص) او له هغه څخه وروسته خلفای راشدينو او صحابه کرامو (رض) ښځه د قاضي په توګه نه ده ګمارلې او نه يې ورته د کومې سيمې ولايت ورکړی دی. (۳: ۳۹۰ مخ)

جمهور علماؤ د سورة البقرة او سورة النساء آيتونه دليل نيسي. الله تعالی په سورة النساء کې فرمايلي دي: «الرِّجَالُ قَوَّامُونَ عَلَى النِّسَاءِ» (سورة النساء: ۳۴ آية.) ژباړه: سړي حاکمان (مقرر شوي) دي پر ښځو باندې...(۵: ۴۶۵ مخ) يعنې په عقل، علم، صبر، حلم، پوهه، عصوبت، سهم، آذان، اقامت، جمع، جماعت، امامت، جمعه، خطبه، اعياد، رفاعت، عزت، شرافت، امارت، خلافت، نبوت، وحي، قوت، جهاد، عطا، سخا، حزم، عزم او نورو سره الله تعالی نارينه ته پر ښځو باندې فضيلت او لويي ورعطا کړې ده. (۵: ۴۶۷ مخ) په لنډه ډول، په ټولو چارو کې سړي په ښځو حاکمان دي نو فلهذا په قضاوت کې هم سړي پر ښځو حاکمان دي او ښځه قضاوت نشي کولی.

دغه راز الله تعالی فرمايي: «وَلِلرِّجَالِ عَلَيْهِنَّ دَرَجَةٌ ۗ» (سورة البقره: ۲۲۸ آية) ژباړه: او شته نارينهؤ لره په دې ښځو باندې بهتروالی (فضيلت). (۵: ۱۸۳ مخ) «يعنې يو فضيلت او فوقيت نارينه پر ښځو باندې لري چې د رجعت واک او اختيار خامخا نارينه سره دی.» (۵: ۴۶۷مخ) که څه هم په پورته تفسير کې ښکاري چې دا حکم د کورنۍ اړوند مسئله کې دی، مګر جمهور علماء يې د قضاوت لهپاره هم دليل ګڼي. کله چې سړي پر ښځو يوه درجه غورهوالی ولري، نو بايد قضاوت هم دوی وکړي.

همدارنگه، په صحيح بخاري کې له حضرت ابوبکر (رض) څخه روايت دی چې حضرت محمد (ص) فرمايلي: «لَقَدْ نَفَعَنِي اللَّهُ بِكَلِمَةٍ سَمِعْتُهَا مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيَّامَ الْجَمَلِ بَعْدَ مَا كِدْتُ أَنْ أَلْحَقَ بِأَصْحَابِ الْجَمَلِ فَأُقَاتِلَ مَعَهُمْ. قَالَ: لَمَّا بَلَغَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّ أَهْلَ فَارِسَ قَدْ مَلَّكُوا عَلَيْهِمْ بِنْتَ كِسْرَى قَالَ: لَنْ يُفْلِحَ قَوْمٌ وَلَّوْا أَمْرَهُمْ امْرَأَةً» (۲: ۱۰۸٦ مخ) راوي وايي: نبي (ص) ته وويل شول چې په فارسيانو باندې د کسری لور حکومت کوي، نو حضرت محمد (ص) وفرمايل: هغه قوم هيڅکله نه بريالی کيږي د کوم چې ښځه مشره وي.(۷: ۴۱۸مخ) د دې سربېره له حضرت عايشې (رض) څخه روايت دی، نوموړې فرمايي: ژباړه؛ رسول الله (ص) فرمايلي دي چې ښځې دې قاضيانې نه مقررېږي چې د خلکو ترمنځ پرېکړې وکړي.(۷: ۴۱۷مخ)

په الموسوعة القضائيه کې ابويعلى الفراء ته منسوب قول راغلی: د قضاء په منصب باندې يوازې هغه کس گمارل کېدای شي چې لاندې اووه شرايط ولري: (۱) ذکوريت (۲) بلوغ (۳) سالم عقل (۴) آزادي (۵) اسلام او عدالت (٦) سمعي او بصري حس صحيحوالی (۷) علم او فضل. د نارينوالي شرط ددې لەپاره اېښودل شوی دی چې ښځه د حاکم مقررېدو او شهادت ورکولو په اعتبار سره د سړي برابره نه ده گڼل شوې.(۷: ٤۱٦مخ) فلهذا د جمهورو علماؤو په اند ښځه د قضاوت اهل نه ده او نه شي کولی چې قضاوت ترسره کړي.

## ۲- د حنفي علماؤو نظر

حنفي علماء شهادت په قضاوت قياس کوي (۸: ۱۸۳مخ) او وايي چې کوم ځای د ښځو شهادت قبلېږي، هلته د هغوی قضاوت هم قبلېږي. امام ابوحنيفه او اصحاب يې وايي: کومو ځايونو کې چې يوازې د ښځو يا له سړيو سره يوځای د ښځو شهادت قبلېږي، هغو مسايلو کې ښځې قاضيانې هم جوړېدای شي. دې لەپاره چې په شهادت کې د ولايت معنی ده، نو په حدودو

او قصاص کې د ښځو قاضي کېدل روا نه دي، ځکه هلته یې شهادت نه قبلیږي. (۹:۳۱۷مخ)

د امام ابوحنیفه (رح) په اند د حدودو او قصاص په اړوندو قضیو کې ښځې قاضیانې نشي ټاکل کېدای، لیکن په نورو قضیو کې قضاوت کولی شي. البته خپله احنافو هم د قضاوت په مسلک د ښځو گمارل د گناه سبب بللی دی. (٦: ۵۱۴ – ۵۱۵ مخونه)

د امام ابوحنیفه (رح) قول دی چې ښځه قاضي کېدای شي، دده په نظر له حدودو او قصاص پرته په ټولو امورو کې د ښځې قضاوت سم دی. (۷: ۴٦مخ) اوس وخت کې داسې کس قاضي ټاکل کېدای شي چې په هغه کې د شهادت اداء کولو ټول شرایط موجود وي، مثلاً مسلمان وي، بالغ وي، عاقل وي، آزاد وي، عادل وي، نابینا نه وي او په قذف محدود نه وي.(۸: ۲۱۱مخ)

امام قدوري فرمایي چې شهادت څو (څلور) مرتبې لري؛ لومړی هغه یې د زنا شهادت دی. دا تر ټولو اعلی دی. په دې کې د څلورو سړیو شهادت معتبر دی، ځکه د الله تعالی ارشاد دی، «فَاسْتَشْهِدُوا عَلَيْهِنَّ أَرْبَعَةً مِّنْكُمْ» (النساء: ۱۵ آیة). (هغه ښځې چې بدکاري وکړي) پر هغوی څلور نارینه شاهدان ونیسئ. په دې آیت شریفه کې د څلور عدد صراحت لري او د شاهدانو نارینه‌والی داسې معلومیږي چې د «اربعة» لفظ مونث دی او په عربي ژبه کې قاعده ده چې له ۳ څخه تر ۹ پورې که عدد مذکر وي، نو معدود مونث راځي او که عدد مونث وي نو معدود مذکر راځي. په دې ځای کې اربعة لفظ مونث دی نو ددې له‌پاره یې معدود مذکر دی. نو په زنا کې د ښځو شهادت نه قبلیږي ځکه د رسول الله (ص) او له هغه وروسته د شیخینو (حضرت ابوبکر «رض» او حضرت عمر «رض») په زمانه کې همدا سنت روان و چې په حدودو او قصاص کې د ښځو شهادت اعتبار نه درلود. (۸: ۱۸۳ مخ)

د شهادت دوهمه مرتبه له زنا پرته نورو حدودو لکه سرقت، قذف، شرب خمر او قصاص کې د شهادت اداء کول دي. د زنا حد پرته په نورو حدودو او

قصاص کې د دوه سړیو شهادت قبلیږي او د ښځو شهادت اعتبار نه لري. (۸: ۱۸۴ مخ)

له دې پرته نورو حقوقو کې د دوه سړیو یا یوه سړي او دوو ښځو شهادت برابر دی که مالي حق وي او که غیرمالي حق لکه نکاح، طلاق، وکالت او وصیت. په دې عبارت کې د شهادت دریمې مرتبې یادونه شوې ده چې د حدودو او قصاص پرته څومره حقوق ذکر شوي دي، هغه که مالي حقوق وي او که غیرمالي حقوق په دې ټولو کې د دوه سړیو شهادت یا د یوه سړي او دوو ښځو شهادت معتبر دی. د مالي حقوقو مثال پلورل او پېرل د غیرمالي حقوقو مثال نکاح طلاق او نور دي.(۸: ۱۸۴ مخ)

ددې سربېره، شهادت څلورمه مرتبه هم لري. په دې مرتبه کې بیا یوازې د ښځو شهادت اورېدل کیږي. په زیږون، بکارت او د ښځو په نورو داسې عیوبو کې، چې سړي ورباندې نه خبریږي؛ یوازې د یوې ښځې شهادت صحیح کیږي. (۸: ۱۸۴ مخ) د ښځو پر بدن داسې پټ عیبونه چې یوازې ښځې وربادې پوهېدای شي او سړي پرې نه خبریږي، په دې کې د یوې ښځې شهادت بسنه کوي. ددې اجمال تفصیل دا دی چې زیږون له مور څخه د بچي جلا کېدل دي او له مور څخه د ماشوم په جلاکېدو د سړي مطلع کېدل ناممکن دي، له همدې کبله په نفس ولادت د ښځو شهادت قبلیږي. د بکارت تفصیل دا دی چې که چېرته د کوم نامرد او د هغه د ښځې ترمنځ اختلاف راغی او نامرد خاوند وویل چې ما له دې سره جماع کړې ده او ښځې انکار وکړو او یوې یا څوو ښځو د هغې ښځې د باکره‌والي شهادت ورکړو نو د نوموړې خاوند ته دې یو کال وخت ورکړل شي، که چېرته یو کال تېر شو او بیا هم سړي د صحبت دعوا وکړه او ښځې رد کړه، نو قاضي به ښځو ته حکم وکړي چې نوموړې ښځه وګوري چې باکره ده که ثیبه، که چېرته ښځو د هغې د باکره‌والي خبر ورکړو نو اختیار به ورکړی شي چې خوښه یې نکاح کې پاتې کیږي او که تفریق کیږي. که یې تفریق وټاکلو، نو قاضي به په تفریق حکم

کوي، ځکه د ښځو شهادت تایید ترلاسه شو یعنې باکره ده. په همدې ترتیب، کوم ځای ته چې سړي نه شي کتلی، هلته یوازې د ښځو شهادت قبلیږي لکه د رحم یا نورو ځایونو ناروغي. په دې اړه د یوې ښځې شهادت کافي ګڼل کیږي او په همدې فیصله کیږي.(۸: ۱۸۴ – ۱۸۵ مخونه) نو د احنافو په اند په وروستیو دوو مرتبو کې دا چې د ښځې شهادت قبلیږي، نو په دغو مسایلو کې قضاوت هم کولی شي.

همدارنګه، احناف وایي چې په اداري چارو او نورو قضیو کې ښځه قاضي جوړېدای شي، ځکه په معاملاتو کې د ښځې شاهدي جایزه ګڼل شوې ده، البته د مخکیني حدیث په وجه ښځې ته اختیار ورکوونکی به ګناهګار وي. (۳: ۳۹۰ مخ) بالاخره، د احنافو په اند له حدودو او قصاص څخه پرته په هر څیز (قضیه) کې د ښځې شهادت جواز لري.(۸: ۲۱۹ مخ) یعنې له ذکر شوو دوه ډولو ټاکلو شوو جزاګانو لرونکو جرایمو بغیر په نورو ټولو حقوقو کې ښځه قاضي کېدای شي، ځکه ښځه که څه هم ناقص‌العقل ده لیکن د حدودو او قصاص پرته شاهدي ورکولی شي او دا خبره مخکې تېره شوې ده چې څوک د شهادت اهل وي هغه اهل قضاء هم کېدای شي. البته د قاضي په توګه د ښځې ټاکونکی به ګناهګاریږي ځکه په بخاري شریف کې روایت دی چې هغه قوم هلاک شو کوم چې خپلې چارې ښځې ته وسپارلې.(۸: ۲۱۹ مخ)

### ۳- د ابن جریر طبري نظر

ابن جریر طبري ددې اپوټه په هر ډول قضیو کې ښځې د قضاء اهل ګڼلې دي.(٦: ۵۱۴ – ۵۱۵ مخونه) ابن جریر طبري وایي چې ښځه په مطلق ډول په هر ډول مسایلو او قضایاو کې حاکمه ټاکل کېدای شي، دا چې د ښځې مفتي‌کېدل جایز دي، نو قاضي جوړېدل هم جایز دي. (۳:۳۹۰ مخ.) ابن جریر طبري د ښځو مطلق قضاوت منلی دی او د تقررۍ د جواز علت یې دا بللی چې ښځې فتوی ورکولی شي. یعنې قضاوت له فتوی سره تړي او وایي، لکه څرنګه چې ښځه مفتي کېدای شي، دا رنګه په ټولو قضیو کې قاضي

کېدای هم شي. د ابن جرير طبري ددې نظر په اړه الماوردي وايي: «د ابن جرير طبري دا انفرادي مسلک دی چې د ښځې لهپاره په ټولو شرعي احکامو کې پرېکړه کول او قاضي کېدل مجاز دي. مگر دده دا قول د امت اجماع سره د مخالفت له امله دومره مهم نه دی. ددې سربېره نوموړی قول د دې آيت کريمه سره هم په ټکر کې دی: «الرِّجَالُ قَوَّامُونَ عَلَى النِّسَاءِ» (سورة النساء: ۳۴ آية)

د ځينو شافعي علماؤو نظر دا دی چې که د شوکت خاوند پادشاه، کومه ښځه د قضاء په سمت وټاکي، نو د دې ښځې پرېکړې نافذې دي. ( ۹: ۳۱۷ مخ)

بل لوري ته د قرانکريم په نمل سورة کې د بلقيس قصه بيان شوې ده. کله چې هدهد سليمان (ع) ته خبر راوړي، په قرانکريم کې د بلقيس د پادشاهۍ ذکر راغلی دی، مگر ترځنگ يې د هغوی گمراهي ذکر کړې ده. په ۲۴ آية کې د بلقيس د قوم د گمراهۍ لامل لمر ته عبادت بلل شوی دی. چې په لاندې ډول دی: «وَجَدتُّهَا وَقَوْمَهَا يَسْجُدُونَ لِلشَّمْسِ مِن دُونِ اللَّهِ وَزَيَّنَ لَهُمُ الشَّيْطَانُ أَعْمَالَهُمْ فَصَدَّهُمْ عَنِ السَّبِيلِ فَهُمْ لَا يَهْتَدُونَ» ژباړه: ومې موندله دغه ښځه او قوم ددې چې سجده کوي دوی لمر ته بې له الله او ښايسته کړي دي دوی ته شيطان عملونه د دوی پس منع کړي دي (شيطان) دوی له سمې صافې لیارې پس دوی نه مومي سمه صافه لیاره. ( ۴: ۴۴۲ مخ)

که څه هم په پورته آية شريف کې په ځرگند د ښځو د حاکميت د ممنوعيت کوم دليل نشته، مگر په ځينو نورو آياتونو او احاديثو کې په څرگنده ذکر شوی دی چې وړاندې ورباندې بحث وشو.

**دوهم: په کامن لا او روم-جرمن حقوقي سيستمونو کې د قضاوت لهپاره د ذکوريت شرط**

کامن لا او روم-جرمن حقوقي سيستمونه، د معاصرې نړۍ دوه لوی حقوقي سيستمونه دي. کامنلا په بريتانيا کې اساس لري او د بريتانيا سربېره

پاکستان، هند، آیرلینډ، امریکا، کاناډا او استرالیا ددغه سیستم څخه په حقوقي مسایلو کې استفاده کوي. د روم-جرمن حقوقي سیستم اساس بیا له روم او ورپسې په فرانسه کې بنسټیز شوی دی. د فرانسې او ایټالیا سربېره، اطریش، جرمني او نور اروپایي هېوادونه ددغه سیستم څخه استفاده کوي. په ټولیز ډول، د قضاوت په برخه کې د شرایطو له ډلې د ذکوریت شرط، په اړه ددغو دواړو سیستمونو لرونکو هېوادونو کې ډېر لږ جزئي اختلافات لیدل کیږي. د نورو مسایلو په څېر، د ښځې د قضاوت مسئله هم په دغو دواړو حقوقي سیستمونو کې د بحث وړ مهمه موضوع ده. ښځې ته د قضاوت مسلک یا دنده سپارل لا څه چې ددغو سیستمونو لرونکو هېوادونو کې پخوا ښځو ته حتی د انساني جنس په توګه نه لیدل کېدل او جلا چلند ورسره کېده.

په ټولیز ډول، د انساني ژوند په تاریخ کې له ښځو سره د بې رحمه چلند دومره بدې بیلګې شته چې په لوستو یې انسان ته درد رسیږي. هندوستان کې خلکو د لور زېږېدنه د خپلو خدایګوټو تېروتنه ګڼله، د ساتي قانون له مخې هغه مېرمن چې مېړه یې مړ کېده باید د هغه له مرګ وروسته دا هم ژوندۍ وسوځول شي. اوسنۍ روسیه، یونان او روم کې د غلام او میرمن ډېر توپیر نه کېده، په نږدې ټوله اروپا کې له صنعتي انقلاب وړاندې د ښځو ژوند در په در خاورې په سر و. په تاریخ کې به یې ښایي کمې نادره ښې بیلګې هم وي خو تر ټولو لوی بدلون د اسلام سپېڅلي دین د ښځو په ژوند کې راوستی چې ښځو پکې د کرار ساه واخیسته او ان په ټولنیزو ځایونو لکه جومات او د مشورو او ناستو سیمو ته هسکه غاړه او په درناوي تللې. (۱۹: بې‌تا)

ښځې د ټولنې د رکن په توګه تر ۱۷ او ۱۸ پېړیو پورې په اروپایي هېوادونو او دغه راز ددغو دوو سیستمونو لرونکو نورو هېوادونو کې له خپلو حقوقو بې‌برخې ګڼل کېدې. ښځو ته د حقوقو ورکړې سلسله له ۱۸ مې پېړۍ وروسته پیل شوې ده او اوسمهال په ځینو هېوادونو کې د نورو چارو

ترڅنګ په قضاء کې هم دندې لري او آن ځينو هېوادونو کې يې شمېر له سړيو هم زيات دی.

له ډېرې مودې راهيسې، حقوقي او قضايي مسلک په نارينه‌وو پورې منحصر دی او ښځو ته په کې اجازه نه ورکول کېده. په بريتانيا کې، لومړنۍ ښځينه په ۱۸۷۳ کال کې حقوقو پوهنځي کې شامله شوه، په ايټاليا کې په ۱۸۷٦، په فرانسه کې په ۱۸۸۷ کال او په جرمني کې ايالت تر ايالات توپير لري خو په ټوله کې له ۱۹۰۰ څخه تر ۱۹۰۸ پورې ښځې حقوقو پوهنځي ته منل شوې دي. په هر حال، پوهنځي ته منل په دې معنی نه دي چې ګواکې دوی ته دې د حقوقو سند د لرلو حق ورکړل شوی وي. په بريټانيا کې ښځو په ۱۹۱۷ کال د فراغت حق ترلاسه کړ، په جرمني کې په ۱۹۱۲، په ناروې کې لږ مخکې په ۱۸۹۰ او ۱۸۹۷ کال کې دا حق ترلاسه کړی و. بل پړاو دا و چې ښځو عملي روزنو او کار لەپاره مبارزه پيل کړه. د بېلګې په توګه، په جرمني کې په ۱۹۲۲ز. کال کې يو ځانګړی قانون تصويب شو چې ښځو ته يې د حقوقي چارو د پرمخ وړلو اجازه ورکوله. (۲۷: P 19) په ځينو هېوادونو کې ښځو د شلمې پېړۍ په پيل کې حقوقي مسلک ته د لاسرسي حق ترلاسه کړ، مګر د قاضيانو په توګه لسيزې وروسته اجازه ورکړل شوه. په فرانسه کې په ۱۹۰۰ کال او ايټاليا کې په ۱۹۱۹ کال لومړنۍ ښځه د مدافع وکيلې په توګه ومنل شوه چې په قضاء کې بيا دا نېټې په ترتيب سره ۱۹۵٦ او ۱۹٦۳ کلونه دي. په پرتګال کې، لومړنۍ ښځينه قاضي د سلازار له واکمنۍ وروسته په ۱۹۷۴ز. کال کې وګمارل شوه. (۲۷: P 19)

د کامن‌لا هېوادونو په قضائيه قوه کې ښځې لا هم لږ استازي لري، په روم-جرمن هېوادونو کې بيا د ښځينه قاضيانو شمېر د نارينه‌وو په پرتله اوسمهال ډېر دی او د نارينه قاضيانو شمېر له دې وروسته مخ په ډېرېدو دی. په ۲۰۱۸ز. کال په فرانسه کې ٦٦ سلنه ښځينه قاضيانې، ايټاليا کې ۵۴ سلنه ښځينه قاضيانې، هسپانيه کې ۵۴ سلنه ښځينه قاضيانې او اطريش کې ۵۱

سلنه ښځینه قاضیانې وې. په داسې حال کې چې په کامن لا هېوادونو کې یې شمېر تر دې کم و. په انګلینډ او ویلز کې ۳۷ سلنه ښځینه قاضیانې، په آیرلینډ کې ۳۹ سلنه ښځینه قاضیانې، په متحده ایالاتو کې بیا ۳۰ سلنه ښځینه قاضیانې په دندو مصروفه وې. (P 725:١٤) ددې دلیل دا دی چې جنسیت په اروپا کې، په ځانګړي توګه د کامن‌لا حقوقي سیسټم لرونکو هېوادونو کې لا هم د یوې ستونزې په توګه په نظر کې نیول شوی دی او تر هغې کچې چې په رسنیو کې د ښځینه او نارینه د حقوقو د برابرۍ چغې وهي، یوازې خبرې دي او د دوی د نظر مطابق د جنسي برابرۍ تعمیم لا هم عام شوی نه دی.

یو شمېر پوهان او پالیسي‌جوړونکي وایي چې د کامن لا او روم-جرمن په هېوادونو کې د قاضیانو د ټاکلو د کړنلارې له‌امله داسې حالت رامنځته شوی دی. (P 685:١٤.) یعنې کامن لا هېوادونو کې ښځینه قاضیانې ځکه لږې دي چې د قضاوت مسلک باندې ګمارل پېچلي پړاوونه لري او ښځې دا پړاوونه په اسانه نه شي طی کولی مګر په روم-جرمن هېوادونو کې د قضاوت مسلک ته ټاکل نسبتاً ساده دي.

په قضاوت کې د ښځو دا ضد او نقیض عملي سهم ښایي بېلابېل لاملونه ولري چې وروسته به په جلا ډول وڅېړل شي.

په اروپا کې له ټولنیز مساوات څخه وړاندې ښځې ته نه یوازې چې په قضاوت کې نه منل کېدې، بلکې په نورو چارو حتی په ټاکنو کې هم له ګډون څخه محرومې وې. نو د ټولنیز مساوات له‌پاره هڅې پیل شوې.

د ټولنیز مساوات د مبارزو موخه دا وه چې د نورو چارو ترڅنګ ښځو ته په قضایي ادارو کې د ګډون حق ورکړل شي چې (د دوی په اصطلاح) د معاصر دور غوښتنه ده مګر ددې پر وړاندې نارینه‌وو ډېر چټک غبرګون وښود. یوازې د ۱۹۲۰ لسیزې په پای کې ښځو ته اجازه ورکړل شوه چې قاضیانې شي. په ویمار (د جرمني مخکینی نوم دی) جمهوریت کې، ډېری حقوقپوهان په دې

نظر وو، چې ښځه د قضاوت کولو لەپاره مناسبه نه ده ځکه ځانګړی ذهني جوړښت لري چې تر لوېې کچې د احساساتو تر اغېز لاندې راځي. (۱٦: P 63) ښځې خپل احساسات ډېر لږ کنټرولولی شي او په پایله کې د «نارینەوو» په پرتله د ښځو لەلوري بېپرېتوب تر پښو لاندې کېږي. (۱٦: P 59)

ددې سربېره چې په اروپا کې د قضاوت په برخه کې ښځو له نارینەوو ټیټ مقامونه ترلاسه کړي دي، مګر په قوانینو کې ځیني تفاوتونه هم ورته په نظر کې نیول شوي دي. په قضاییه قوه کې د مقررۍ لەپاره د ښځو او نارینەوو د عمر په اړه کوم توپیر نه شته، مګر د تقاعد په برخه کې د ښځو او نارینه عمر سره توپیر لري.

په ایټالیا کې د جبري تقاعد عمر ۷۰ کاله ټاکل شوی دی. نارینەوو لەپاره ترټولو ډېره خدمت موده ۴۲ کاله او ٦ میاشتې او ښځو لەپاره ۴۱ کاله او ٦ میاشتې ټاکل شوې ده. خو د ټاکلو لەپاره د عمر قید په پام کې نیول شوی نه دی. (۲٥: P 31)

همدارنګه، په لېتوانیا کې د قانون په اساس د عادي تقاعد سن ٦٥ کاله ټاکل شوی دی. ددې حکم د انفاذ پرمهال د تقاعد سن ټیټ ټاکل شوی و، د حکم د تطبیق لەپاره انتقالي احکام په پام کې نیول شوي وو، چې په تدریجي ډول د تقاعد عمر هر کال زیاتیږي ترڅو چې ٦٥ کلنۍ ته ورسیږي (اوسمهال نارینەوو لەپاره ٦۳ او ښځو لەپاره ٦۱،٥ کاله دی او تر ٦٥ کلنۍ به همداسې مخ په بره روان وي.) (۲٥: P 40)

په پولینډ کې په خپله خوښه د تقاعد عمر په حالت کې، ښځې کولی شي چې په ٥٥ کلنۍ کې، په هغه صورت کې چې له ۲٥ کلونو ډېر خدمت یې ترسره کړی وي؛ او نارینه کولی شي چې په ٦۰ کلنۍ کې، په هغه صورت کې چې د خدمت موده یې له ۳۰ کلونو کمه نه وي؛ د خپلې خوښې تقاعد وغواړي. (۲٥: P 55) په اطریش کې، د مساوي شرایطو په صورت کې، ښځو ته تر هغو لومړیتوب ورکول کېږي چې ٥۰ سلنه ونډه یې پوره کړې نه وي.

(P 3 :۲۵) په عمومي ډول ذکوریت د تقاعد په حقوقو کې په پام کې نیول شوی دی او د خدمت موده د ښځو لهپاره نسبت نارینهوو ته ټیټه ټاکل شوې ده.

تر دې ځایه د کامن لا او روم جرمن حقوقي سیستمونو لرونکو هېوادونو په قضاییه قوه کې د ذکوریت د شرط په اړه عمومي معلومات وړاندې شول. اوس د هر حقوقي سیستم په قضاییه قوه کې د ټاکل کېدو لهپاره د ذکوریت شرط په تړاو په جزئیاتو سره بحث کیږي.

**۱- په کامنلا حقوقي سیستم کې د قضاوت لهپاره د ذکوریت شرط**

په عمومي ډول، داسې کوم اسناد زموږ لاس ته نه دي راغلي چې وښیي ښځې له قضاوت څخه څنګه او په کوم دلیل منع کړی شوي دي. مګر داسې اسناد شته چې ښیي ښځې کله او څرنګه قضاییه قوې ته اجازه ترلاسه کړې ده. په کلي ډول، په اروپا کې د ښځو په اړه د هغوی فزیکي جوړښت ته په کتو لیدلوری هم حاکم دی. ښځې د حمل، زیږون او ماشوم پالنې له امله په فزیکي او اروايي ډول اغېزمنیږي. ښځې مجبوریږي چې ډېره رخصتي وکړي او له رسمي کارونو د ډېرې مودې لهپاره لرې واوسي. همدا لامل دی چې د کامن لا هېوادونو په قضائیه قوه کې د ښځینهوو شمېر لږ دی.

په عملي ډګر کې د ښځو قضائیه قوې ته داخلېدل په ۱۹مه پېړۍ کې پیل شول او له هغه وړاندې یې هیڅ دنده نه درلوده. په کاناډا کې لومړنۍ ښځینه قاضۍ په کال ۱۸۹۷ کال کې وټاکل شوه چې کلارابریټ مارټېن نومېده. د متحده ایالاتو په ایالتي محکمه کې لومړنۍ ښځینه قاضۍ په ۱۸۷۰ کال کې وټاکل شوه. د متحده ایالاتو په استیناف محکمه کې په ۱۹۸۰ کال کې ښځینه قاضیانې وټاکل شوې. په فدرالي محکمه کې بیا په ۱۹۱۸ کال کې لومړنۍ ښځینه قاضۍ وټاکل شوه. د متحده ایالاتو په ستره محکمه کې لومړنۍ ښځینه قاضۍ په ۱۹۸۱ کال وټاکل شوه. سنډرا ډې اوکانر نومېده. (P 22:۱۵) له هغې وړاندې ټول نارینه د قاضیانو په توګه

ټاکل کېدل. که څه هم کوم تقنيني سند نشته چې وښيي آيا ښځې له دې وړاندې منع وې او که څنګه يا يې دليل روښانه کړي، مګر عملاً په ذکر شوې نېټه د امريکا سترې محکمه کې لومړنۍ ښځينه قاضي په دنده وګمارل شوه او له يادو نېټو وړاندې ښځو په قضاء کې دندې نشوې ترسره کولی.

د کامن‌لا په هېوادونو کې په ملي او فدرالي کچه، قاضيان د حکومت د سياسي څانګو له لوري نوماند او تاييديږي. د بېلګې په توګه، په متحده ايالاتو کې فدرالي قاضيان د ولسمشر له‌خوا نوماند او د مشرانو جرګې له‌خوا تاييديږي. ولسمشر مجبور نه دی چې خپله پرېکړه د ځانګړي پروسيجر يا د معيارونو ځانګړي تقنيني سند په‌واسطه وکړي. که څه هم، ښايي او تر ډېره ولسمشر د امريکا د مدافع‌وکيلانو ټولنې  يا بلې کومې ادارې له لوري د وضع شويو ارزونو په اساس خپلې پرېکړې کوي، خو مکلف نه دی چې په خپله پرېکړه کې ياد معيارونه يا ارزونې په پام کې ونيسي.( P 692:١٤) په امريکا کې يوازې په دا ډول اجرائيوي انتخاب سره قاضيان نه ټاکل کيږي، بلکې ايالتي قاضيان په عام ډول د ټاکنو له لارې انتخابيږي. له دې څرګنديږي چې قضاوت له‌پاره ذکوريت د شرط په توګه نه دی اېښودل شوی سياسي تړاو ډېر مهم دی ترڅو چارواکو ته د نږدې‌والي او ورسره د تړاو له لارې د قضاء مسلک باندې وګمارل شي.

ددې سربېره، په متحده ايالاتو کې ددې له‌پاره چې يو کس قاضي شي: ١) حد اقل ليسانس سند لرل؛ ٢) د د حقوقو پوهنځي د داخلې په امتحان کې بريالي کېدل؛ ٣) د حقوقو ډاکټرۍ  سند اخيستل؛ ۴) د بار (د مدافع وکيلانو اتحاديې) په ازموينه کې بريا؛ ۵) څارنوال يا مدافع وکيل په توګه کار کول؛ ٦) نوماند کېدل او تاييدېدل؛ ٧) روزنه اخيستل. ( No date :٢٢) له دغو شرايطو يې هيڅ هم نه ښکاري چې ذکوريت دې ورکې شرط اېښودل شوی وي. خو لکه څرنګه چې مخکې ورته اشاره وشوه، په کامن‌لا هېوادونو کې د ښځينه قضاتو شمېر د نارينه‌وو په پرتله کم دی، دا پورته شرايط ددې

لامل شوي دي چې ښځې په اسانه ونه کړای شي قضاء مسلک ته لار ومومي ځکه د ماشوم پالنې او خپل فزيکي جوړښت له امله دومره اوږدې تجربې او معيارونه نشي پوره کولی.

ددې سربېره، د متحده اياالاتو ولسمشر د فدرالي قضاتو د ټاکلو واک لري. ددې واک د اعمال پرمهال، د امريکا ولسمشر بايد د فدرالي قاضيانو د انتخاب پرمهال لاندې معيارونه په پام کې ونيسی:

تجربه؛

سياسي ليدلوری؛

گوندي او شخصي تعهد؛

قوميت او جنسيت: نسبتاً په وروستيو کې، ټول فدرالي قاضيان سپين‌پوستي او نارينه دي، خو بيا هم اوسمهال قوميت او جنسيت ډېر اړين دی. په ۱۹٦۷ز. کال کې، لومړنی تورپوستی د سترې محکمې قاضي په توگه وټاکل شو. دغه راز، په ۱۹۸۱ز. کال کې رونالډ ريگن سترې محکمې له‌پاره لومړنۍ ښځينه قاضی، ساندرا ډی کانر نومانده کړه. ددې سربېره په وروستيو کې افريقايي امريکايان، لاتين امريکايان، د نورو اقليتي ډلو غړي او ښځې په ولسواليو کې قاضيانې ټاکل شوې دي. (No date :۲۰) پورته شرايطو کې هيڅ شرط نه شته چې ښځې له قضاوت څخه منع کړی شوې دي؛ بلکې د وروستي معيار په توگه آن د امريکا ولسمشر له‌پاره جنسيت په پام کې نيول ددې څرگندونه کوي چې ښځينه د قاضی په توگه په لوړو قضايي مناصبو وټاکي. مگر عملاً ډېری قضات چې د امريکا متحده اياالاتو ولسمشر يې گماري، اکثر يې نارينه دي.

د امريکا متحده اياالاتو سربېره، د کامن‌لا حقوقي سيستم تر ټولو مخکښ هېواد بريتانيا ده. په بريتانيا کې قضاوت له‌پاره دوه ډوله شرايط دي:

۱. وکيل، مشاور يا د حقوقي زده‌کړو لرونکی وي.

۲. لږ تر لږه پنځه کاله په حقوقي مسلک کې کاري تجربه ولري. (۲۰: No date)

په بريټانيا کې، يو کس د قضايي ټاکنو کميسيون له لارې قضاوت ته غوښتنليک جمع کوي. په دغو شرايطو کې ښځينه يا ذکوريت شرط په پام کې نه نيول کيږي. يعنې دواړه جنسونه د قضاوت لەپاره مساوي حق لري. مگر عملاً داسې نه ده. د اروپايي شورا د ۲۰۱۸ز. کال راپور ښيي چې په بريټانيا او سکاټلينډ کې، چې د کامن لا سيستم مخکښان دي؛ له ٦۰ سلنه ډېر قاضيان نارينه دي. (۲۱: No date) ښايي دليل يې دا وي چې ښځينه په اسانۍ سره دا شرايط نه شي پوره کولی. د ښځو فزيکي جوړښت، د ولادت په خاطر ډېرې رخصتۍ او دغه راز د ماشوم روزل هغه څه دي چې نه پرېږدي ښځې په اسانه پورته ذکر شوي شرايط پوره کړي.

همدارنگه په بريټانيا او ايرلينډ کې وکالت او قضاء دواړو ته د ښځو د ضعيف لاسرسي په تړاو عين اختلاف موجود دی، خو دلايل يې جلا دي. په دغو کامن لا هېوادونو کې قضايي بستونو ته لاسرسی د اکاډميکو معيارونو په اساس نه ورکول کيږي، بلکې قاضيان په انفرادي ډول له مشرانو او په ځانگړي ډول د مدافع وکيلانو د ټولنې له غړيو څخه د وړتيا له مخې گمارل کيږي. دغه وضعيت له ۱۹٦۰ او ۱۹۷۰ يمو لسيزو څخه مخکې حالت پورې دوام وکړ چې ښځې په کې د ولسوالۍ يا عالی محاکمو قاضيانو په توگه وگمارل شوې. په شمالي آيرلينډ کې لومړنۍ ښځينه د ولسوالۍ قاضۍ په توگه په ۱۹۹۸ کال وټاکل شوه او په استيناف محکمه کې بيا په ۲۰۱۵ز. کال کې وگمارل شوه. په آيرلينډ کې، لومړنۍ ښځينه قاضۍ په ۱۹۸۰ز. کال کې وگمارل شوه.( ۲۷: P 19)

په انگلستان کې، په ۱۹۱۹ کال د ښځو او نارينەوو د مساوات په برخه کې يو قانون رامنځته شو. نوموړي قانون د ښځو او نارينەوو مساوات اصولي کړل او په لومړۍ ماده کې يې راځي: «هيڅوک بايد د عامه خدماتو د اجراء،

ملکي يا قضايي دندې يا مقام ترلاسه کولو يا گمارل کېدو، يا ملکي مسلکي کار استخدام يا ټولنيز خدمت لەپاره د جنسيت يا واده له امله د شرايطو نابشپړوونکی ونەگڼل شي.» (Art. 1 :۱۸) تر دې وړاندې ښځه خصوصاً وادەشوې ښځه، له دې منع وه چې په ځينو مسلکي دندو باندې وگمارل شي. ددې سربېره، لومړي بند ددې جواز هم ورکړی چې په ملکي خدماتو کې د ښځو د شموليت لەپاره مقررات او اصول هم وضع شي او همدا ډول دا قدرت هم ورکړل شو چې د ژوري يا منصفه هيئت غړې شي. (۲۳: ۲۰۱۹) ښځو ته پخوا يوازې د ۱۹۱۸ز. کال د خلکو د استازولۍ د قانون پر بنسټ يوازې د (محدودې) رايەورکولو حق ورکړل شوی و، او کولی يې شول چې پارلمان ته ودرېږي، مگر په ټولنيز ژوند کې د لوړې کچې محدوديتونه لا هم وربانديې پر خپل ځای پاته وو. په اصل کې، دغه قانون پر ښځو باندې د کامن لا سيستم ډېر لگېدلي محدوديتونه لرې کړل. د بېلگې په توگه، له دې وروسته ښځو کولی شول چې قاضۍ يا د ژوري هيئت يا قضايي هيئت غړې شي يا د قضاء مسلک ته ورداخل شي. په دغه برخه کې نور نو واده د ښځې د کاري ځواک پر وړاندې د خنډ په توگه نه گڼل کېده. (No date :۲٦) دا مساوات راوستل عملاً، د انگلينډ او ويلز د مدافع وکيلانو په ټولنه کې لومړي ځل لەپاره د ۱۰ مېرمنو په داخلولو سره پيل شول. په ۱۹۲۴ز. کال کې دا شمېر ۱۸ ته لوړ شو، خو په ۱۹۲۵ز. کې بېرته ۹ ته راکښته شوه. دا شمېره د ۱۹۴۰ز. لسيزې تر نيمايي پورې همداسې عادي وه او د ۱۹۷۰ز. کال پورې يوازې ۸،۲ سلنه ښځو د مدافع وکيلانو په ټولنه کې غړيتوب درلود. دا شمېره د ۱۹۸۰ز. تر نيمايي پورې ۲۷ او د ۱۹۹۰ کال تر لومړيو پورې ۴۲،۷ سلنه ته لوړه شوه. په وروستيو کلونو کې له ۵۰ سلنه څخه لوړه شوې ده. (۱۱: P 2) د تېر (۲۰۱۸ز.) د اپرېل رسمي شمېرې ښيي چې ۲۹ سلنه د محاکمو قاضيانې او ۴٦ سلنه د ټريبيون قاضيانې ښځينه وې. په عالي ټريبيونونو کې ۴۱ سلنه ښځينه قاضيانې وې. له ۲۰۱۴ز. کال راهيسې د محاکمو په قضاتو

کې ښځينه استازيتوب ۵ سلنه لوړ شوی دی. د استنياف محکمو ۲۱ سلنه او د سترې محکمې ۲۵ سلنه ښځې وې. (۱۱: P 3)

بالاخره، داسې نتيجه لاسته راځي چې په کامن لا حقوقي سيستم کې، په قواعدو کې د ښځې لەپاره کوم ممنوعيت نه دی اېښودل شوی چې ګواکې قضاوت نه شي کولی، مګر دا د هغو هېوادونو د حکومتونو تعامل دی چې نه غواړي ښځينه قاضيانې وټاکي نو له همدې امله يې ښځينه قاضيانې د نارينەوو په پرتله کمې دي.

**۲- په روم-جرمن حقوقي سيستم کې د قضاوت لەپاره د ذکوريت شرط**

روم-جرمن حقوقي سيستم د رومي امپراطورۍ له قوانينو څخه منشأ اخيستې او په فرانسه کې هم دود حقوقي سيستم دی. په رومي امپراطورۍ کې، ښځه يعنې کمزورې، غيرمنطقي، غير قابل اعتماد او بې‌کفايته جنس ګڼل کېده. (۱۲: P5) په رومي امپراطورۍ کې ښځې په سياست کې له ونډې منع کړې شوې وې، د بېلګې په توګه ښځې نه شوای کولی چې سياستواله شي، قانون‌جوړونکې شي، يا مبلغه او مفتي شي. (۱۲: P 5) د جنسيت په لحاظ، ښځې د مشرانو جرګې، پوځ، قضاوت او بل هيڅ مقام ته د مشرې په توګه وړ نه ګڼل کېدې او دا مناصب په دوديز ډول د نارينەو مناصب و. سيسرون په واضح ډول ويل چې هر داسې پوست چې د سړيو مشري ورته مناسبه وي او ښځې په کې مشرې وټاکلی شي او اجازه ورکړی شي، نو دا د هغه ښار لەپاره بدمرغي ده. ( ۱۲: P 6) حتی تر ۱۹۵۱ پورې ښځو ته د اقليت په سترګه کتل کېدل. په ۱۹۵۱ز. کال ټولنپوهې، هيلن ماير ښځو ته د اقليت اصطلاح په کارولو باندې يوه سيستماټکه څېړنه ترسره کړه او ټينګار يې وکړ چې ښځې هم د نورو اقليت ډلو په څېر يوه اقليتي ډله ده. (۱۲: P 6) نوموړې دعوا وکړه چې ښځه د يوې ټولنيزې ځنډې ته شوې ډلې په توګه او د غيرقابل تغيير ټولنيزو پايلو څخه چې د ښځينه جنس سره تړلي دي؛ په لويه کچه ځوريږي.( (P 6 :۱۲

په هر حال، رومن جرمنيک سيستم په نسبي ډول عصري دی چې د اتلسمې پېړۍ له ډيموکراسۍ څخه سرچينه اخلي. په دې سيستم کې قاضي، د کامن لا په پرتله، يوازينۍ خوله ده چې د قانون اصطلاح ورڅخه راووځي.

په روم-جرمن حقوقي سيستم کې يو ليدلوری موجود و چې ويل يې جنسيت په قضاوت تاثير لري. مګر د فرانسې د سترې محکمې رييسې يو ځل وويل: «دا نظر قاضي او قانون سربداله کوي. ما په خپل کاري چاپيريال کې د ښځولۍ په اساس هيڅ پرېکړه نه ده کړې.» ( ١٤ :P 701) ځينو څېړنو کې ثابته کړې چې جنسيت په يو لړ موضوعاتو کې په قضاوت اغېز لري (په ځانګړي ډول د جنسي ازار ته ورته قضيو کې)، خو په ځينو نورو کې بيا تاثير نه لري.( ١٤: P 702) دلته يوازې ورته اشاره وشوه چې قضاوت د جنسيت له مخې توپير کوي، دا يوې جلا او مستقلې څېړنې ته اړتيا لري چې په تفصيل سره وڅېړل شي، اوس ترې صرف نظر کيږي.

د روم-جرمن حقوقي سيستم مخکښ هېواد فرانسه ده. په نولسمه پېړۍ کې په فرانسه کې حتی ښځو ددې اجازه نه درلوده چې عامه دولتي دندې ترسره کړي. د شلمې پېړۍ په پيل کې، ډېر شمېر دولتي وزارتونو په فرانسه کې يو شمېر ښځې د ټايپستانو او محررانو په توګه په دندو وګمارلې، خو بيا هم ښځو سره د معاش او ترفيع په برخو کې تبعيض کېده. (٢٤: P 613) يعنې په عين بست ښځينه ته د نارينه په پرتله ټيټ معاش ورکول کېده او ترفيعات يې په اسانه نه اجراء کېدل. د ښځو د حقوقو فعالانو په ټولو برخو کې له ښځو سره د تبعيض ختمېدو غږونه اوچت کړل او ټينګار يې وکړ چې په ځانګړې توګه په معلومو او غيرمعمول دندو باندې د ښځو ګمارل په ټولنه کې د ښځو په ټوليز مقام باندې اغېز ښندي. په حقيقت کې په فرانسه کې فيمينېسټانو د جنسيتي برابرۍ په لوري پرمختګ کې مهم رول ولوباوه. (٢٤: P 614)

په فرانسه کې په ۱۹۵۸ز. کال کې د حقوقي زده‌کړو د ملي ښوونځې له تاسيس څخه وړاندې، قضاييه قوه د عدليې وزارت له لوري اداره کېده او قضاوت لەپاره يې د لوړو متخصصو وکيلانو يا په ځانګړو ازموينو کې له برياليو کسانو څخه کانديدان منل. په تيوريکي لحاظ، د مدافع وکيلانو د ټولنې ټول نارينه غړي به د غيرحاضر قاضي ځايناستي ګرځېدل. که څه هم په څرګند ډول ښځې په قضاييه قوه کې له دندې نه وې منع شوې، خو تمه دا وه چې د دوی د ګډون د اجازې لەپاره دې يو مثبت قانون ايجاد شي. (۲٤: P 613)

د قاضيانو په توګه خدمت ته د ښځو د اجازې کمپاين په فرانسه کې د اطفالو محاکمو له تاريخ سره اړيکه لري ځکه (په اصطلاح) اصلاح‌غوښتونکو دا نظريه ترويج کړه چې ښځې د قضاوت له نورو ځانګو څخه وړاندې د اطفالو محاکم ښه اداره کولی شي. (۲٤: P 614) ځکه دوی په دې معتقد وو چې ښځه د مورولۍ عاطفې د درلودو په سبب د اطفالو قضيې په سم ډول هواروي. د وخت په تېرېدو سره د ماشومانو حقوقو مدافعينو، سياسي مشرانو او فيمينسټانو ترمنځ په دې اړه اجماع رامنځته شوه چې په محاکمو کې د ښځو د مورتابه مدني ليدلوري د عملي‌کولو پرته محاکم نيمګړي دي. (۲٤: P 615) دې چارې دوام وکړ چې وروسته ښځو ته يوازې د ماشومانو اړوندو مسايلو کې قضاوت اجازه ورکړل شوه.

په ۱۹۱۱ز. کال کې فيرون ، چې څلور کاله وړاندې د پاريس د مدافع وکيلانو ټولنې سره يوځای شوې او د ځوانانو مدافع وه، د اطفالو د عدالت په اړه يوه ځانګړې انتقادي طرحه خپره کړه او په قضاييه قوه کې يې د ښځو د ډېرې ونډې غوښتنه وکړه. نوموړې د ښځينه وکيلانو او د ښځينه حقوقو د غورځنګ مخکښه وه. هغه د مسلکي تجربې له مخې دې پايلې ته رسېدلې وه چې قضايي سيستم له ماشومانو سره غيرعاطفي او نامناسب چلند کوي.(۲٤: P 615) وروسته بيا ببګر هڅه پيل کړه چې ښځو ته په قضاييه قوه کې ډېره برخه ورکړل شي. د فرانسې د عدليې وزير، انټوني پيرر د ببګر د

پلان سره ښکاره او شدید مخالفت څرگند کړ (چې غوښتل يې ښځو ته په قضاوت کې ونډه ورکړل شي) او ويې ويل: «زه به ښځو ته داسې کار ونکړم چې اجازه ورکړم قاضيانې شي.» نوموړي ټينگار کاوه چې ښځې د ۱۹۰۰ز. کال د قانون په اساس له قضاوت څخه منع کړی شوي دي. پيرر حتی د فرانسې د مشرانو جرگې غړي وگواښل که چېرته مو د بېگر پلان تصويب کړ، نو «فيمينسټان» به له دې موقع څخه په گټه‌اخيستنې سره نورو محاکمو ته هم نفوذ وکړي. (۲٤: PP 619, 620)

هر يو کس دې ته په حيرانتيا سره په تمه و چې ښځو ته به ژر قضاييه قوې ته د لاسرسي حق ورکړل شي، لکه څرنگه چې پيرر وړاندوينه کړې وه او فيمينسټان په بې‌صبری سره په تمه وو چې داسې اصلاحات رامنځته کړي. په ۱۹۱۳ کال کې، د ښځو نړيوالې شورا په لسمه غونډه کې، استازو په اتفاق سره رايه ورکړه چې د نارينه‌وو د شرايطو په څېر ښځې هم حقوقي او قضايی معيارونو ته مساوي لاسرسی ولري. څارنوال اگېث ډايرنډ د ۱۹۰۰ کال په قانون نيوکه کوله چې د وکيلانو د دوه جنسونو ترمنځ د ښځو په تړاو «نابرابري رامنځته کوي»؛ دا هغې دروازې سره ورته دی چې ښځې په کې له وړاندې داخلې شوي او دروازه ورپسې بنده شي. (۲٤: P 621)

په داسې حال کې چې فرانسې د اصلاحاتو پر ضد مقاومت کاوه، د مرکزي او لويديځې اروپا ډېری هېوادونو ښځو ته حقوقي او قضايي مسلکونه ورکړل. بالآخره، په ۱۹۲۸ز. کال ښځينه وکيلانو او قاضيانو د حقوقي مسلک لرونکو ښځو نړيوال فدراسيون جوړ کړ چې وحدت رامنځته کړي. په پيل کې، اِسټونيايي، هسپانوي، پولينډي، جرمني او اطريشي ښځو فرانسې ته سفرونه وکړل چې د ښځو د وضعيت د ښه‌کولو په ځانگړي ډول د کورني حقوقو، سياسي حقوقو او وظيفوي فرصتونو د ښه‌کولو په‌اړه سټراټيجيانې جوړې کړي. دې ټولنې نړيوالې پېژندل شوې فعالانې فرانسې ته راټولې کړي، په دې کې د ماډريډ وکيله کرالا کمپومر هم شامله وه چې د انتخاب د حق په

اړه يې ليکچرونه هم ورکړي وو؛ او پولينډې قاضي گرابېزنکا هم شامله وه چې د کابيني له غړو سره يې وليدل ترڅو قضاييه قوې ته د ښځو د لاسرسي لەپاره لابي وکړي. (۲٤: 626 P)

په ۱۹۲۹ز. کال کې د حقوقي مسلک لرونکو ښځو نړيوال فدراسيون مشرې اگيث ډايرنډ دا پوښتنه د فرانسې عدليې وزير لوشېن هيوبرټ سره راپورته کړه چې ولې په فرانسه کې ښځينه قاضي نشته. په خپل وار، مرستيال پيير کاتالا، چې يو راډيکال وکيل و، موافقه وکړه چې د داسې طرحې ملاتړ به وکړي چې ښځو ته اجازه ورکوي ترڅو د اطفالو محاکمو کې ومنل شي. (۲٤: 627 P) دا کال يې کومه نتيجه ورنه کړه.

راتلونکی کال، گرېنبرگ، چې د ښځينه حقوقپوهانو د ملي ټولنې مشره وه، له کاتالا سره غوښتنه بيا تازه کړه چې د کار وزير و. د غوښتنې پر مهال نوموړې غوښتنه وکړه چې ټول قضايي پوستونه دې ښځو او نارينەوو نوماندانو ته په مساوي ډول پرانيستي وي. (۲٤: 627 P) نوموړې استدلال وکړ، دا چې ښځې له ۱۹۰۰ز. کال راهيسي رايه ورکولی او کاري شوراگانو او د کار عالي شورا ته نوماندېدای او ټاکل کېدلی شي، نو په قضاء کې هم دنده ترسره کولی شي. په صنعتي محاکمو کې، ښځې اجازه لري چې له ۱۹۰۷ز. او ۱۹۰۸ز. راهيسي انتخابي پوستونه پرمخ يوسي، او تر ۱۹۳۰ز. کال پورې ښځو ته د نارينەوو په څېر د قضاوت د خدمت موقع په برابرېدو شوه.(۲٤: P 627) په ۱۹۳۰ راوروسته د ښځو د قضاوت په اړه هڅې لا نورې هم چټکې شوې. خو بيا هم مبارزې روانې وې. په ۱۹۳۲ز. کال کې يوه ښځينه يوازې د جنسيت له امله له نوماندۍ لرې او په شرايطو پوره ونه گڼل شوه. په ۱۹۳٦ز. کال کې د فرانسې په کابينه کې د دريو ښځينه وزيرانو ټاکلو فيمينستان خوښ کړل چې گواکې د حکومت داخل کې يې پلويان پيدا کړل. (۲٤: P 633) فرانسوي ښځو د ۱۹۴۴ز. کال اپرېل په ۲۱ نېټې فرمان له مخې د رايه ورکولو حق ترلاسه کړ او په هماغه کال کې لوی څارنوال او نورو چارواکو له

عدليې وزير څخه وغوښتل چې داسې قانون رامنځته کړي چې قضايي پوستونو باندې ښځې وګمارل شي. (۲٤: P 635)

بالآخره، د ښځينه حقوقو ترلاسه کولو لەپاره مبارزه چټکه شوه. ترڅنګ يې مخالفتونه هم چټک شول. د فرانسې په پارلمان کې لابروز د مخالفتونو مخکښ و. نوموړي د احتجاج په توګه له ځان سره ۵۴ استازي له پارلمان څخه وويستل. ددې امتناع سربېره، يوه لايحه د رايو په اتفاق سره د ۱۹۴٦ز. کال د اپرېل په ۱۱مه تصويب شوه چې ټولو نارينه او ښځينه اتباعو ته يې په قضاييه قوه کې د غوښتنليک وړاندې کولو يا نوم‌ليکنې لەپاره يو ډول اصول رامنځته کړل. (۲٤: P 636) او په دې ترتيب په فرانسه کې د ښځو قضاوت د قانون په اساس ومنل شو.

د روم-جرمن حقوقي سيستم لرونکو هېوادونو له ډلې په ځينو نورو اروپايي هېوادونو کې، لکه د کامن لا حقوقي سيستم پلوه هېوادونو په څېر، په ځانګړي ډول په المان کې ليدل کېږي چې ښځې حتی په ۲۰مه پېړۍ کې د قضاوت لا څه چې نورو ټولنيزو حقوقو څخه هم محرومې وې.

په ويمار جمهوريت کې (ويمار له ۱۹۱۸ څخه تر ۱۹۳۳ز. کال پورې د المان رسمي نوم و) د ټولنيزو حقوقو لەپاره بېلابېل غورځنګونه موجود وو. يو له دغو څخه ښځو ته د مساوي رای د حق غوښتونکو غورځنګ و. د ټولنيز مساوات لەپاره د هڅو موخه دا وه چې ښځې په قضايي ارګانونو کې ونډه ولري، هغه غوښتنه چې اوس وخت کې هم نارينه ورسره مخالفت کوي. په دغه هېواد کې، يوازې د ۱۹۲۰ کال کې ښځو اجازه ترلاسه کړه چې قاضۍ شي. خو بيا هم په ويمار جمهوريت کې ډېری حقوق‌پوهان په دې باور و چې ښځه د خپل ذهني ترکيب له مخې نشي کولی قضاوت وکړي چې په احساساتو باندې يې تر لويې کچې پورې اغېز پرېباسي. (۱٦: P 17) د دوی دليل دا دی چې ښځې خپل احساسات نشي کابو کولی. (۱٦: P 14) او له همدې امله قضاوت هم نشي کولی.

په جرمني کې، ښځې حقوقو پوهنځي ته د لومړي ځل لهپاره په ۱۹۰۸ز. کال کې ومنل شوې. په ۱۹۱۲ز. کال، ورته اجازه ورکړل شوه چې په دولتي ازموينه کې ګډون وکړي چې په پوهنتون کې حقوقي زده‌کړې تعقيب کړي او په ۱۹۱۹ز. کال کې د عملي حقوقي روزنو ته ومنل شوې چې دوهمه دولتي ازموينه کې د ګډون لهپاره اړينې زده‌کړې دي او په جرمني کې د قضاتو، وکيلانو او محررانو په توګه په قضاييه قوه کې د دندې جوګه شي. له دې وروسته يو لړ مباحث راپورته شول. په جورنالونو کې هم ليکنې خپرې شوې چې ګوندي ښځې حقوقي چارې مخته وړلی شي. استدلال کېده چې ښځې د خپل احساساتي او بيولوژيکي جوړښت له امله نشي کولی چې قضاوت وکړي. له همدې امله، دا د فکر وړ نه ده چې په محکمه کې دې د عدالت غږ پورته کړي. (۱۷: PP 25, 26) سره ددې چې ښځو حقوقي زده‌کړې وکړې، مګر بيا هم اجازه نه ورکول کېده چې کار وکړي. که څه هم د ويمار اساسي قانون (چې له لومړۍ نړيوالې جګړې وروسته په ۱۹۱۹ز. کال تصويب شوی و) ښځو ته د رای ورکولو حق ورکړل شو او جنسي برابري يې اعلام کړه، خو بيا هم اړينه وه چې په ۱۹۲۲ز. کال کې يو واضح او څرګند قانون تصويب شي ترڅو حقوقي مسلک ته د ښځو داخلېدل قانونمند کړي. له دې وروسته ښځو ته د حقوقي او قضايي دندو ترلاسه کولو لاره پرانيستل شوه، خو سهولت يې نه درلود؛ يعنې د ښځو پر ضد په حقوقي دندو د ګمارل کېدو پر ضد تبعيض لا هم موجود و، که څه هم ښځو ثابته کړې وه چې ښې حقوقپوهانې دي. (۱۷: P 26) د ښځو شمېر ډېر په کراره زياتېده، مګر د دريم رايخ په واکمنۍ کې تقريباً ټولې ښځې په کور شوې. په ۱۹۳٦ز. کال کې، هټلر يو فرمان ورکړ چې ښځې دې له حقوقي او قضايي مسلکونو څخه عزل کړل شي. د نازي تفکر له مخې، د ښځو هدف دا دی چې جرمني نژاد ته ډوډۍ ورکړي او جګړې ته اتلان وروزي، نه دا چې په دولتي چوکاټ او قدرتي مقامونو کې مداخله وکړي. پخوانۍ قاضيانې اداري بستونو او ډېرى يې د

ماشومپالنې او توقیف ادارو کې مقررې شوې چې د پالنې، خواخوږۍ او مورولۍ عاطفې یې درلودې. په ۱۹۳۹ز. کال یوازې نهه ښځینه وکیلانې پاتې شوې. ښځینه وکیلانو هغه مهال حقوقي دنده ترسره کولی شوای چې نارینه همکارانو یې جګړې ته د تګ پرمهال دوی ته چارې ورسپارلې، مګر کله چې سړي بېرته راستنېدل، ښځو به استعفاء ورکوله. (۱۷: P 27)

دوهمې نړیوالې جګړې هم د جرمني د ښځو په وضعیت کې کوم تغییر رانه‌ووست. کوم ځای به چې سړي وو، ښځو به دوهمي مقامونه لرل. ځینې ښځینه قاضیانې او وکیلانې وګمارل شوې، مګر موقت؛ کله چې سړي له جګړه‌ییزو کمپونو راستنېدل، دوی به بېرته ګوښه کېدې. په ۱۹۵۰ز. کال د ملکي خدماتو د قانون په لومړنۍ مسوده کې ښځو ته لا هم د تجرد اړوند فقرات ځانګړي شوي وو. ښځې به له واده وروسته له عامه خدماتو ګوښه کېدې یا به یې په خپله خوښه تقاعد اخیسته ترڅو په دنده پاتې کېدل یې تخلف ونه ګڼل شي. د ۱۹۵۰ او ۱۹۶۰ز. کلونو ترمنځ ښځې له مسلکي کارونو لرې وې. که څه هم ښځو په جګړه‌ییز اقتصاد او له جګړې وروسته د ښارونو او مدني ټولنې په رغاونه کې مهمه ونډه درلوده، له جګړې وروسته دوره کې په کورنیو اړیکو واکمنه نظریه دا وه چې سړي نفقه ګټونکي او ښځې د کور مېرمنې دي. یوې واده‌کړې ښځې ته مناسبه نه وه چې په دنده وګمارل شي ځکه دا کار له نفقه‌ګټونکو څخه د هغوی دندې اخیستل ګڼل کېدل. په ۱۹۶۰ز. کال کې له څلور سلنه څخه کښته ښځې قاضیانې او وکیلانې او یوازې څو محدود شمېر څارنوالانې وې. (۱۷: P 27) مګر د امیندوارۍ د مخنیوي په موخه بازار ته د ګولیو راوتل او ترڅنګ یې د کورني ژوند په مفاهیمو او په کې د ښځو د ونډې تغییرددې لامل شو چې په حقوقي زده‌کړو او حقوقي مسلک کې د ښځو شمېر په پرلپسې او د پام وړ ډېر شي. (۱۷: PP 27,28)

د زريزې د پيل راهيسې، له سړيو څخه ډېرو ښځو حقوق لوستل. حقوق د ښځو د خوښې وړ مسلک باندې بدل شوي وو او دا هغه پرمختګ دی چې په نورو نارينه‌ميلانه مضامينو کې نه ليدل کيږي لکه طبيعي علوم چې له کمپاينونو سره سره په کې د ښځو فيصدي ټيټه وه. له لږ څنډ وروسته، په حقوقي مسلک کې د ښځو برخه ډېره شوه، په ځانګړي ډول په وروستيو دوو لسيزو کې په ډېرې چټکۍ سره او په قضايي برخه کې د نورو برخو په نسبت په چټکۍ سره ډېره شوې ده. په وروستيو کلونو کې، له ۵۰ سلنه څخه ډېر ټاکل شوي قاضيان او څارنوالان ښځينه دي، نو قضاييه قوه به نوره هم «ښځينه‌پلوه» شوه. (۱۷: P28) بالاخره، په ۲۰۱۴ز. کال کې څېړنې وښوده چې (په جرمني کې) ۴٦ سلنه قاضيانې او ۴۸ سلنه څارنوالانې په دنده بوختې دي. (۱۷: P 28)

## دريم- د کامن‌لا او روم‌جرمن حقوقي سيستمونو کې د ښځينه قضاتو د نه‌ټاکلو کېدو لاملونه

په قضاء کې د ښځو د کم يا نه ټاکل کېدو لاملونه مختلف دي. يو تر ټولو مهم يې د ګمارنې په پروسيجرکې نه شفافيت دی. دا څنډ تر ډېره د کامن لا په هېوادونو کې دی چې د قاضي په ټاکلو کې مسلکي ليدلوری او لاسته‌راوړنې او دغه راز (په دوديز ډول د نارينه‌وو) شبکو ته لاسرسی مهم رول لوبوي. د ځواک او اغېز بېلابېلې شبکې (چې ښځې په کې تر ډېره نه وي) د همکارانو او د هغوی د وړتيا په اړه معلومات وړاندې کوي، نو د هغه شخص له وړاندې ښه انځور وړاندې کول چې د ددغو شبکو له انده اړوند پوست ته ترټولو ډېر مناسب وي، تر ډېره په دې معنی دي چې د سيستم يوشان‌والی يا تجانس او ثابتوالی يقيني کوي. يعنې د سړيو ډېر اغېز او واک ددې لامل ګرځي چې دوی د خپل جنس له‌پاره لابي وکړي او دا چاره ددې لامل ګرځي چې د همدوی د خپل جنس کسان ډېر راشي او دا وضعيت همداسې روان او ثابت وساتل شي. بل پلو ته د روم-جرمن په هېوادونو کې، ښځې ته اسانه ده چې

په قضاء کې دنده واخلي، ځکه د داخلېدو يو لړ رسمي ازموينې شته چې شفافې دي او بې له دې چې جنسيت په پام کې ونيسي، ښځو ته يې شرايط پوره کول اسانه دي. خو دا په دې معنی نه ده چې په عالي محاکمو کې د ښځو ښه استازيتوب شوی دی. په دواړو، د کامن لا او روم-جرمن په هېوادونو کې د گمارنې او انتصاب کمېټې تر ډېره د نارينه‌وو په لاس کې دي، نو نارينه هم لاسرسی او هم منابع دواړه کنټرولوي او د نارينتوب او ښځېتوب نظريات تر ډېره په کې رول لوبوي. (۲۷: P 32)

دا چې د انتخاب مسئله تر ډېره د نارينه‌وو په لاس کې ده، هغه ښځې چې هم مهارت او هم وړتياوې لري چې يوه مشخصه دنده ترسره کړي، ډېری وخت له پامه غورځول کيږي. له همدې امله په متحده ايالاتو کې شوې څېړنې ښيي چې په وړتيا باندې تمرکز، په اصل کې د تبعيض ښکار گرځي. (۲۷: P 32)

بل لوري ته، لکه څرنگه چې وړاندې روښانه شوه، د کامن لا حقوقي سيستم لرونکو هېوادونو په پرتله، د روم-جرمن حقوقي سيستم لرونکو هېوادونو کې د ښځينه قاضيانو شمېر د نارينه‌وو په پرتله ډېر دی. ددې دليل د داخلېدونکو ازموينو او شرايطو په نوعيت پورې تړاو لري. په کامن لا هېوادونو کې شرايط سخت دي، نو ځکه د ښځينه قضاتو شمېر کم دی، ددې اپوټه د روم-جرمن هېوادونو د داخلېدو شرايط او ازموينې نسبتاً ساده دي، نو ځکه يې ډېری ښځينه قاضيانې گمارلې دي.

په فرانسه کې په عادي محاکمو کې په ټوليز ډول ۶۰،۵ سلنه قاضيانې دي. دا شمېره په ځينو محاکمو لکه د اطفالو په محاکمو کې ۷۶،۷ سلنه ته رسيږي په داسې حال کې چې د فرانسې په ستره محکمه کې يې فيصدي ۳۵ سلنه ته رسيږي. (۱۰: PP 95, 97) معمولاً، په قضاييه قوه کې د انتخاب ميتودونه داسې حالت ته تللي چې د شموليت امتحان د ښځو د انتخاب په

پلوۍ وي، په داسې حال کې چې په سیاسي لحاظ د ښځو انتخاب ډېر لوی تغییر نه دی رامنځته کړی. (۱۰: P 97)

په فرانسه کې قاضیان د کانکور پروسې له لارې ټاکل کیږي چې د شمولیت رقابتي امتحان دی او د حقوقو فارغانو څخه د هغوی تر فراغت وروسته اخیستل کیږي. د شمولیت دغه ازموینه دوه لیکلې او شفاهي برخې لري. په نظري لحاظ، «جنسیت د قاضي د روزلو د انتخاب په پروسه کې کوم رول نه لري»، په ځانګړي ډول د یو کس د حقوقو علم اړوند پوهې معلوملو په امتحان کې، ځکه د نامعلوم کس په نوم ازموینه اخیستل کیږي. بریالي کسان د روزل‌کېدونکو قاضیانو په نوم یادیږي. دغو قاضیانو ته ۳۱ میاشتې مسلکي روزنه ورکول کیږي چې ورپسې د قاضي په توګه انتخابیږي. په قضاییه قوه کې دا ډول د انتخاب بهیر ثابته کړې ده چې د «ښځو انتخاب یو چانس یا فرصت» دی چې د اتیایمې لسیزې له نیمایي څخه تر وروستیو څو کلونو پورې د ښځینه قاضیانو فیصدي ۷۰ څخه تر ۸۰ پورې لوړه شوې ده. (۱۰: PP 97, 98) له همدې امله ده چې د ښځو فیصدي نسبت کامن لا هېوادونو ته په فرانسه کې لوړه ده.

ددې سربېره، په ځینو هېوادونو کې سیاسي ملاحظات، سیاسي نظریات او سیاسي تړاو هم ددې لامل شوی دی چې په دغو دوو سیستمونو کې کله کله د ښځینه قضاتو شمېر نسبت نارینه‌وو ته کم شي.

د بېلګې په توګه په متحده ایالاتو کې، فدرالي قاضیان د امریکا متحده ایالاتو د اساسي قانون د دوهمې مادې له مخې د ولسمشر له لوري (البته د مشرانو جرګې سره له مشورې وروسته) ټاکل کیږي. ددغه هېواد په قضاییه قوه کې د ګمارنې بهیر درې پړاوونه لري: د ولسمشر په واسطه د کاندیدانو ټاکل، د مشرانو جرګې د قضایي چارو جرګه‌ګۍ له لوري د کاندیدانو تفحص یا ارزول او د مشرانو جرګې تاییدي. که څه هم د فدرال قاضي څوکۍ لەپاره رسمي شرایط نشته، خو د انتخاب په پروسه کې د کاندیدانو مسلکي پوهه،

سیاسي نظریات او سیاسي تړاو مستقیمه اړیکه لري. د ولسوالۍ محاکمو او استیناف په محاکمو کې ټاکنې اساساً انتصابي ټاکنې دي. د سترې محکمې ټاکنې هم د سیاسي بهیر په پایله کې ترسره کیږي چې وړتیا په کې ډېر لږ رول لري. بل پلو، د قاضیانو هویت او قضایي تفکر یا فلسفه غوښن رول لري. نوماندان د مشرانو جرګې د قضایي جرګه‌ګۍ له لوري زیات بررسي او ارزول کیږي. دا چې د انتخاب بهیر په څرګنده او روښانه توګه سیاسي دی، دا د حیرانتیا خبره نه ده. بارک اوباما په فډرالي قضایي څوکیو باندې ۱۵٦ نارینه او ۱۱۱ ښځې قاضیانې ګمارلې وې چې تر دا مهاله د یوه امریکایي ولسمشر له لوري د تر ټولو ډېرو (۴۲ سلنه) ښځو ګمارل ښیي. ددې اپوټه، بوش بیا یوازې ۲۲ سلنه قاضیانې ټاکلې وې. (۱۰: P 98) په هر حال، له دې څخه ښکاري چې په سیاسي لحاظ ښځې په غربي هېوادونو کې د ټیټ ارزښت لرونکې دي. ځکه کله چې د هغوی د استعداد خبره کیږي، لکه په فرانسه کې چې د قضاتو په ټاکلو کې د کانکور سیستم څخه استفاده، هلته ښځې ډېرې ګمارل کیږي. یعنې که سیاسي ملحوظات په نظر کې ونه نیول شي او عمومي امتحان لکه کانکور له لارې ښځې قضاوت مسلک باندې وګمارل شي، نو بیا د ښځو انتخاب حتی له سړیو هم ډېرېږي لکه په فرانسه کې، خو کله چې د سیاسي انتخاب او انتصاب او لیدلوري خبره مطرح شي، لکه متحده ایالاتو کې، هلته نو بیا ښځې یوازې او یوازې په محدود ډول ټاکل کیږي.

د دې سربېره، یو بل اساسي لامل چې د ښځینه قضاتو مخنیوی کوي، هغه د ډېرې تجربې لرل دي. ښځینه د بېلابېلو ستونزو له کبله نشي کولی چې د نارینه‌وو په څېر پراخه تجربه حاصله کړي او له سړیو سره سیالي وکړي. د ښځو فزیکي جوړښت، ځواک، میاشتني امراض، د حمل او له حمل وروسته ناروغۍ او په ترڅ کې یې رخصتۍ او د ماشوم روزل هغه څه دي چې نه پرېږدي ښځې پراخې تجربې ترلاسه کړي.

نو په قضاييه قوه يا حقوقي ټولنه کې د ډېرې سابقې په اساس ګمارل، د ښځو په زيان بريښي ځکه نو په لوړو حقوقي مقامونو باندې لږې ښځې ګمارل شوې دي. لکه په هند کې چې د سترې محکمې لەپاره يو شرط په ايالتي ستره يا عالي محکمه کې تر نورو ډېر خدمت دی، نو ځکه هېڅ ښځه نه ده ټاکل شوې.(١٣: PP 20, 21)

د دې ټولو سره سره، بيا هم د ځينو هېوادونو قوانينو په قضاييه قوه کې د ښځو د شمېر ډېرولو لەپاره د جنسي برابری يا ورته د ځانګړو سهمونو په څېر معيارونه په پام کې نيولي دي ترڅو له دې لارې د ښځينه قضاتو شمېر ډېر کړي او خنډونه رفع کړي.

د ځينو هېوادونو په قضاييه قواوو کې د جنسيت او نژاد توازن تعهد په پام کې نيول شوی دی. لکه د جنوبي افريقا په اساسي قانون کې چې وايي: «د قضايي مامورينو د انتصاب پر مهال بايد نژادي او جنسيتي ترکيب د توازن رامنځته کولو اړتيا په پام کې ونيول شي». قضايي شورا څخه د اساسي قانون له خوا غوښتل شوي چې په قضايي مامورينو کې د جنسيتي توازن رامنځته کېدو په برخه کې فعال رول ولوبوي. آن له يوه ځانګړي ماموريت پرته هم، قضايي شورا کولی شي چې د قضاييه قوې په څوکيو کې جنسيتي او نژادي توازن برابر کړي. د مثال په توګه، د اونټاريو د قضايي ټاکنو سلاکارې کمېټې په لومړني قانون کې، په ١٩٨٨ز. کال د نوموړې شورا د تأسيس راهيسې، ټولو ١٢٠٠ مخکښو ښځينه قانونپوهانو ته په ولايتونو کې ليکونه واستول او ورڅخه يې وغوښتل چې د قضاوت دندې ته غوښتنليکونه جمع کړي، چې په ترځ کې يې د ١٩٩٠ او ١٩٩٢ز. کلونو ترمنځ ۴٠ سلنه قاضيانې منتخبې شوې.

د ډېری هېوادونو په قضاييه قوو کې د جنسيت له مخې د سهمونو بېلګې محدودې دي. په بين‌المللي کچه، د سهمونو سيستمونه عملاً په نړيواله جنايي محکمه او د بشر حقوقو اروپايي محکمه کې دود دی چې په ٢٠١٦ز.

کال کې په لومړۍ هغې کې ۵۰ سلنه او په دوهمې هغې کې بیا ۳٦ سلنه ښځینه موجودې وې.( ۲۷: P 36) ولې په ځینو هېوادونو کې دا سهم په پام کې نیول شوی دی، لکه بلجیم. په ملي کچه، بلجیم ښځو ته سهم ځانګړی کړی دی. هغوی ټاکونکې کمېټې ته حد اقل ۴ نارینه او همدومره ښځې په نظر کې نیولې دي. ( ۲۷: P 37) دا سهم یوازې د هغې کمېټې غړو ته ځانګړی شوی دی چې د قاضیانو سوانح ارزوي.

**پایله**

د پورته څېړنې په پای کې داسې نتیجه لاسته راځي چې ذکوریت په اسلامي فقه کې د قضاوت لهپاره شرط ګڼل شوی دی او دا څرګنده ده چې اسلام له بل هر حقوقي نظام وړاندې دې مسئلې ته پاملرنه کړې ده او احکام یې وضع کړي دي. که څه هم د علماؤو اختلاف شته، مګر په ټولیز ډول دا اختلاف هم ددې ښودنه کوي چې اسلامي نظام د نړۍ له نورو نظامونو څخه د نورو ډګرونو په څېر په دې ډګر کې هم مخکښ دی او احکام یې روښانه، څرګند او د وخت له غوښتنو سره برابر دي. اسلامي حقوقي سیستم د الله تعالی د احکامو په تفسیر سره د ښځو د قضاوت لهپاره ځانګړي احکام ایجاد کړي دي. په اسلامي حقوقي سیستم کې علماء د ښځې قضاوت یا په بل عبارت، قضاوت لهپاره د ذکوریت شرط یوه اختلافي مسئله ده. ابن جریر طبري وايي چې ښځې په هر ډول مسایلو کې د قضاوت اهل دي او دی قضاوت په فتوی قیاس کوي، وايي لکه څرنګه چې ښځه مفتۍ کېدای شي نو قاضۍ کېدای هم شي. جمهور علماء بیا ددې اپوټه، ښځه په هیڅ ډول مسایلو کې د قضاوت اهل نه ګڼي او ذکوریت د لازمي شرط په توګه ګڼي چې قاضي باید نارینه وي. دوی وايي چې  قضاء یو ډول ولایت دی او له همدې امله یې ښځه اهل نه ده. حنفي علماء بیا ددغو دواړو لیدلورو ترمنځ حالت کې نظر لري او وايي چې له حدودو او قیاس څخه پرته په نورو ټولو حقوقو کې ښځې قضاوت

کولی شي. حنفي علماء قضاء په شهادت قیاس کوي او وايي په کومو مسایلو کې چې د ښځې شهادت قبلیږي، په هغو کې قضاوت هم کولی شي، خو زیاتوي چې د قاضي په توګه د ښځې ګمارونکی به ګناهګار وي.

بل لوري ته په کامن‌لا حقوقي سیستم کې، پخوا په څرګنده ښځې له قضاوت څخه نه وې منع شوې او نه په دې اړه کوم لیکلی سند لاسته راغلی، مګر له نورو حقوقو څخه حرمان یې له قضاوت څخه د محرومیت لامل هم ګرځېدلی و. کامن‌لا حقوقي سیستم کې ښځینه له ۱۹ مې پېړۍ وړاندې نه یوازې چې د قضاوت دنده نه شوه ترسره کولی، بلکې له نورو حقوقو څخه هم بې‌برخې وې. په ۱۹مه پېړۍ کې د کامن‌لا سیستم لرونکو هېوادونو ښځو ته د حقوقو د ورکړې  په نوم ځینې تغییرات رامنځته کړل. لومړی ښځو ته د حقوقي او قضایي زده‌کړو او ورپسې قضاییه قوه کې د دندې حق ورکړل شو. دا بهیر لا هم روان او د ښځو ونډه په تقریبي ډول ۳۰ نه تر ۴۰ سلنه پورې رسېدلې ده. خو لا هم په ښځو باور نشته او قضاوت کې د سړیو په څېر ونډه نه ورکول کیږي.

دغه راز په روم-جرمن حقوقي سیستم کې د ذکوریت شرط لکه د کامن‌لا حقوقي سیستم په څېر دی. یعنې په څرګنده شرط نه و ایښودل شوی. خو بیا هم تر ۲۰مې میلادي پېړۍ پورې ددغه سیستم لرونکو هېوادونو کې یوازې نارینه په قضاییه قوه کې په دنده ګمارل کېدل. د شلمې پېړۍ په پیل سره په فرانسه او جرمني کې د ښځینه قضاتو ګمارل پیل شول، مګر په جرمني کې د هټلر په واکمنۍ سره بیرته ښځې د عاطفې او مورولۍ اړوند دندو ته ورستنې کړل شوې. له دوهمې نړیوالې جګړې وروسته په جرمني کې د ښځینه قضاتو د ګمارلو وضعیت ورو ورو د روم-جرمن نورو هېوادونو ته ورستنېده. د ۲۱مې پېړۍ څېړنې ښیي چې اوسمهال د روم-جرمن حقوقي سیستم د ځینو هېوادونو په قضاییه قواوو کې ښځو ته د ځینو ځانګړو څوکیو ټاکل او په قانون کې په څرګنده ذکر کول چې ښځې او نارینه دواړه قضاوت

کولی شي، منل شوي دي. حتی د دغه سیستم په لرونکو هېوادونو کې د ښځینه قاضیانو شمېر د نارینه‌وو په پرتله ډېر دی.

روم-جرمن حقوقي سیستم لرونکو هېوادونو کې پخوا ښځې لکه د کامن‌لا حقوقي سیستم په څېر له هر ډول حقوقو محرومې وې. ورو ورو وضعیت تغییر وکړ. لومړی یې ښځو ته نور ټولنیز حقوق ورکړل او ورپسې یې د دندو په برخه کې قضایي دندې هم ځانګړې کړې دي. دا وضعیت په ۲۰۱۸ز. کال کې بیخي اوج ته ورسېد او د ښځو ونډه له سړیو هم ډېره شوه. په ۲۰۱۸ز. کال کې د فرانسې او ایټالیا په کښتنیو محاکمو کې د ښځو فیصدي له سړیو څخه ډېره وه. خو ددې ټولو سره سره، په دغو دواړو سیستمونو کې لا هم په ښځو بشپړ باور نه دی موجود او ممکن وروسته دې پایلې ته ورسېږي چې ذکوریت د قضاوت د شرط په توګه ومني. همدارنګه، په جرمني کې د لومړۍ او دوهمې نړیوالې جګړې تر منځ ښځې د عاطفوي دندو پرته له ټولو دندو وویستل شوې او په ځینو نورو هېوادونو کې سړیو هم مقاومت کاوه.

خو ددې له‌پاره چې ښځې یې هڅولې وې، د روم-جرمن حقوقي سیستمو په ځینو هېوادونو کې ښځو ته ځانګړې څوکۍ جلا شوي دي ترڅو فیصدي یې راټیټه نه شي.

په ټوله کې کامن‌لا او روم-جرمن حقوقي سیستمونو اوس مهال ذکوریت شرط ختم کړی دی، مګر ځیني دلایل شته چې ښځې په قضاییه قوه کې له ګډون څخه راګرځوي: لکه د ګمارنې پروسې نه روښتیا، د ګمارنې پروسې ته د سړیو ډېر لاسرسی او د ګمارنې په پروسه کې د سړیو ډېر صلاحیت، د ښځو فزیکي جوړښت، د ښځو له لوري د زده‌کړېزو او تجربوي شرایطو نه بشپړول په ځانګړي ډول کامن‌لا حقوقي سیستم لرونکو هېوادونو کې، سیاسي ملاحظات او تړاوونه هغه څه دي چې ښځې نه پرېږدي په عمل کې قضاوت ته مخه کړي.

**ماخذونه**


١. قرآنکریم

٢. البخاري، ابي عبدالله محمد بن اسماعیل. صحیح البخاري، لومړی چاپ، دار ابن کثیر: دمشق-بیروت، ٢٠٠٢.

٣. الزحیلي، وهبة. الفقه الاسلامی و أدلته. اردو ژباړه: مولانا محمد یوسف تنولي. څلورم ټوک، اتمه برخه. دارالاشاعت: کراچي، پاکستان (---).

۴. د قرآن کریم ترجمه او تفسیر په پښتو ژبه کښې. دوهم جلد له ١٦ تر ٣٠ پارې پورې. د حرمینو شریفینو خادم پادشاه فهد د قرآن کریم د طباعت لپاره: سعودي عربستان. (---)

۵. د قرآن کریم ترجمه او تفسیر په پښتو ژبه کښې. لومړی جلد له ١ تر ١۵ پارې پورې. د حرمینو شریفینو خادم پادشاه فهد د قرآن کریم د طباعت لپاره: سعودي عربستان. (---)

٦. رحماني، خالد سیف الله. قاموس الفقه. څلورم ټوک. زمزم پبلشرز: کراچي، پاکستان. ٢٠١۵

٧. ریسرچ کمیټي فلاح فاونډیشن. الموسوعة القضائیة (اسلامي عدالتو کی فیصلو پر مبنی انسائیکلوپیډیا). اردو ترجمه: ابوبکر صدیق. خالد بوک ډیپو: لاهور، پاکستان. ---.

٨. قاسمي، مفتي وسیم احمد. انوار القدوری شرح اردو مختصر القدوری. دریم ټوک، دارالاشاعت: کراچي، پاکستان. ٢٠١١.

٩. وزارت اوقاف و اسلامی امور، الموسوعة الفقهیة. اردو ترجمه: اسلام فقه اکیډمی (انډیا). ٣٣ ټوک. مجمع الفقه الاسلامی: هند، (---)

١٠. ADÉLAÏDE REMICHE. “When judging Is Power” a gender perspective on the French and American Judiciaries. Université Libre de Bruxelles.

.۱۱Asplin, Sarah. 100 Years of Women in the Law Women in the Judiciary. (---): London. 2019.
.۱۲Berg, Ingeeec. (Inhee Cho). “Female Gender Marginality in the Imperial Roman World: Affinity Between Women and Slaves in Their Shared Stereotypes And Penetrability. Concordia University of Edmonton. Sciendo: Canada. 2020
.۱۳Bulmer, Elliot. Judicial Appointments. International IDEA Constitution-Building Primer 4: Sweden, 2017.
.۱٤Debevoise and Plimpton. “Women Judges in Western Democracies: The Interaction Between Professional Paths and Prestige”. Notes.(---) ,(---) ,(---) .
.۱٥Halilović, Majda, Callum Watson, Heather Huhtanen and Mylene Socquet-Juglard, eds., Gender Bias and the Law: legal frameworks and practice from Bosnia & Herzegovina and beyond (---): ,Sarajevo, , 2017.
.۱٦Schnädelbach, Sandra. “The Jurist as manager of emotions”. Max Planck Institute for Human Development Berlin Translated by: Adam Bresnahan. Inter Disciplines 2. DOI: (---), Germany, 2015.
.۱۷Schultzm Ultike. Do Female Judges Judge Differently? Empirical Realities of a Theoretical Debate. Downloaded from Brill.com09/05/2022 05:17:01PM via free access 2017.
.۱۸UK, Sex Disqualification (Removal) Act, 1919 .

## ويبپاڼې

۱۹. فیسبوک. (۲۳/ ۰٦/ ۱۴۰۱) سید عبدالله نظامي. پته: https://www.facebook.com/100001453593656/posts/5553454551379610/ [د لاسرسي نېټه: ۲۳/ ۰٦/ ۱۴۰۱]

.٢٠American Government. “How Judges and Justices Are Chosen”. Available at: https://www.ushistory.org/gov/9d.asp [Accessed: 7/9/2022[
.٢١CEPEJ. Profile. A Perma.cc record. Available at: https://perma.cc/BM29-UVK8 [Accessed: 7/9/2022[
.٢٢Ebadolahi, Mehran. “How Do I Become a Judge?”. Barmax . Available at: https://testmaxprep.com/blog/bar-exam/how-to-become-a-judge [accessed: 7/9/2022[
.٢٣GOV.UK. (24 December 2019) The Sex Disqualification (Removal) Act 1919. Available at: https://www.gov.uk/government/news/the-sex-disqualification-removal-act-1919 [Accessed: 28/9/2022[
.٢٤Kimble, Sara L. (2008) 'No Right to Judge': Feminism and the Judiciary in Third Republic France. French Historical Studies. 609-641. Available at: https://via.library.depaul.edu/snl-faculty-pubs/27 [Accessed: 25/9/2022[
.٢٥Unified Patent Court, Recruitment of judges. “Qualifications required for and age limit of appointment to judicial offices in the contracting member states”. Available at: https://www.unified-patent-court.org/sites/default/files/upc-national-eligibility-criteria_final.pdf [Accessed: 2022/10/6.[
.٢٦Wikipedia, the Free Encyclopedia. “Sex Disqualification (Removal) Act 1919”. Available at: https://en.wikipedia.org/wiki/Sex_Disqualification_(Removal)_Act_1919 [Access: 28/9/2022[
.٢٧Yvonne, Galligan and et al. Mapping the Representation of Women and Men in Legal Profession across the EU. Legal and Parliamentary Affairs, Euorpean Union: Brussels, 2017. Available at: http://www.europarl.europa.eu/studies [Accessed: 2022/09/22[